






د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نېټه : ۱۳ جولای ۲۰۱۳ میلادی

قدرمنو دوستانو:
تاسوته د قزاقستان او د پخوانی شوروی نامتو او پیاوړی شاعر ، لیکوال او ژباړونکی موکاګالی ماکتایوف ۹ فبروری ۱۹۳۱ – ۲۷ مارچ ۱۰۷۶ دری قطعه شعرونه ژباړه وړاندی کوم هیله مند یم چی خوښ مو شی ...

## یواځیتوب

داد مځـــــــــکی موجودیت په آرامتیا کی
لکه خوب دی د ماشوم په چوپ چوپتیا کی
کله ویښ شو ی زوی دی مه پاڅو په زور
پریږده خـــــوب وکړی لړ نور

ته ویده شه چـــــــی ته ووینی خوبونه
ستا نړی ته پــــــــکار نه دی ثروتونه
دارای او خوشالتیا مـــــی ټول د ستا دی
چی ګدام زما اوس ډک تر انتهــــــا دی

ستا ښکلی موسکا د پلار خــــــوښی ده
چی بی پایه عطوفت په کښی نرمـــی ده
ته څه وایی ، ای زما دزړه ر نـــــــا
چـــــی په ژبه تـــخنوی ته زړه زمـــا

راته ووایـــــه کوم مـــور چی کړی پیدا
فکر نه کړی دماشوم خپل آرامــــــتیا؟
آرامتیا بریښی شیرین او مهـــــــــربان
کله خـــــوښ دی آرامتیا کی ماشومـــان

داد مځکی موجودیت په آرامتیـــــــا کی
لکه خوب دی د ماشوم په چوپ چوپتیاکي
گوره مه پاڅوه زوی زما پـــــــــه زور
پریږده خـــــــــوب وکـــــړی دی نور

* * * * *

## شپیته کلن

په ژوند کی ټول شیان مو ولیدل
په هر څه تاسو بلد یاست
په عقیده کی خپل ډیر کلک
او ژوند ته مو ټول قوت خپل ورکړ
شپیته کلنی ته ورسیدلی .

زما پلار شپیته کاله یی عمر وکړ
څه وکمه ،هغه په جنګ کی ووژل شو
څه وکمه ، خپل وړوکی ږیری سره
به اوس په کلی کی ګرځیده.

ای جنګه ، ته ځمکی ته دښمن او آسمان یی ،
چا وویل جنګه چی تاته اړتیا شته
که دا خونړی جبهه نه وای
پلار به می اوس وظیفی ته روان وو

د ورځی له آزادی نه به یی خوند اخیسته
او خپل مسی سره به یی ساعت تیر وو
ژوند به یی کاوو لکه سپین ږیری
او زما شعرونه به یی لوستل

ځمکه به یی شتډه پری نه ښودله
او خپله مور به یی ښخه کړه.
او خپل زوی به یی لوی کړ
زه له ماشومتوب نه قاتل نه یم

شپیته کلن شوی
په ژوند کی مو ټول شیان لیدلی
او هر شی مو څپل ژوند کی ورکړی
مونږ تاسوته اوږد عمر غواړو اقلا" شپږ شپیته .....

* * * *

# پس له کاره

زه ډیر ستړی یمه ، څه پټ کړم
راکه راته ای نیکه لږ زره نصوار
له دی ناکراری نه می زړه تور دی
زه نور تښتم دا های وای می پکار نه دی

سپین ږیریه ، تا زما پلار لیدلی وو ؟
هغه هم لکه ما غوندی خواشینی یی نه وه لیدلی ؟
هغه هم لکه ما په شان تنباکو څکل
د تللو او راتللو مین وو ؟

هغه هم لکه ماپه شان شوخ او سپین سترګی وو ؟
هغه خپه کوونکی وو یا ورین تندی ؟
کولای شو خلک هیجانی کړی ،
لکه څوک چی د ګدوډی تخم کری ؟

دا زه یم د هغه زوی او میراث ؟
زه پلار په شان یم که نه ؟
« هغه په غشو جوړولو کی ماهر وو»
کوم چا دا راته ویلی وو...

تا زما پلار لیدلی وو راته ووایه ؟
تا ورته د پام وړ مشوری ورکړی وو ؟
ای نیکه ودریږه بس که دا څه حبره شوه ؟
ته ولی اوس اوښکی تویوی ! ؟

هیله کوم مه ژاړه سپین ږیریه. زه نه ژاړم
زه ژوندی یم هیڅ علت د ژړا نه شته !
لکه پلار می دا سپین سری پاڅیده
ډیر ښه نصوار دی ـ خدای په امان.....

****

د محب الرحمن « خطیبي » ژباړه

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org